﴿ ۱۱ ﴾

# د فکر او سیاست قاید سید جمال الدین افغاني

## یا

## هغه څوك چي په شرق کې نوی حرکت راوست

د افغانستان مځکه ډېره سرې پالونکې ده، د تاریخ په مختلفو دورو کي موږ وينو چي د دغه ځای له خلکو څخه ډېر علمي، سیاسي، عسکري او هنري مشاهیر راوتلي دي.

يعني زموږ خلك د هر ډول حرکت او نبوغ او غورځنګ استعداد په ښه توګه لري. یو له دغو خلکو څخه د کنړ د سیدانو د مشهوري کورنۍ سید جمال الدین د سید صفدر زوی وو، چي په تېره پېړۍ کي له کنړه راووت، او په ټوله شرقي دنیا کې يو داسي د ويښتابه غورځنګ پيدا کړ، چي دی د دغه عصر يو سياسي او فکري شیوا، او د عربي شاګردانو په اصطلاح "امام العصر" وګڼل سو.

د سید جمال الدین پر ژوند او فکر باندي ډېر کتابونه په اروپايي او شرقي ژبو یعني عربي ــ ترکي ــ دري ــ اردو ــ انګلیسي ــ پښتو ــ فرانسوي ليکل سويدي او د ده جامع او منلی شخصيت اوس د نيا ښه پېژندلئ دئ. او کله دا سعيه هم سوې ده، چي دغه افغاني د بین المللي شهرت خاوند شخصیت، په نورو ملتو پوري هم ونښلول سي،

مگر دلته زما څېړنه پر هغه تيرو خبرو او کتابو باندي نه ده، او يوازي يوه نوي نشر سوي کتاب ته گورم.

په مصر کي استاد محمود ابوريه يو نوی کتاب په عربي ژبه د "جمال الدين الافغاني تاريخه و رسالته و مبادئه" په نامه کښلئ او په ۲۶۸ مخه کي چاپ کړئ دئ، چي د جمهوريت عربيه متحده د مجلس شيون الاميه له نشراتو څخه دئ.

د کتاب مقدمه شيخ احمد حسن الباقوری د جامعة الازهر مدير ليکلي ده او وايي چي دغه کتاب د سيد جمال الدين افغان يوه عاشق مريد د مصر د رئيس الوزراء د نايب احمد عبده الشرباصي په تشويق وکښنس، او ځکه چي د مصر پوهان او سياسي خلك ټول سيد جمال الدين خپل مشر او امام گڼي، نو د افغاني سيد احوال او افكار په ډېره دلچسپي لولي.

په دې كتاب كي د سيد افغاني سياسي ژوند او د ده فكر او عمل د ده جهاد او خبري او سفرونه او تقريرونه او ليكني په ښه ډول تشريح سوي دي، چي زه يې دلته ځني نكتې رانقلوم :

د كتاب په لومړي مخ كي د سيد دغه وينا چاپ سوي ده :

"شرق ـ شرق ! ما خپل دماغ د دې ليارې وقف كړئ دئ، چي د شرق د مرض تشخيص وكم، او بيا يې په تداوي پسي وگرزم."

د كتاب په مقدمه كي ښاغلي مؤلف د شرق اسفناك حالت په نونسم قرن كي ښيي، او د ځينو اصلاحي حركاتو او د مصلحينو ضرورت بيانوي او بيا نو داسي وايي :

"خدای تعالی دغه لوی مصلح سيد جمال الدين له افغانستانه راوپاخاوه، او ده ته يې د علم او حكمت او عزم او قوت لوی مواهب وركړل، مگر د افغاني سيد او د نورو مصلحينو فرق دا وو، چي هغو به



خپل اصلاحات په يوه ملت كي د عمل په يوه خاصه توگه سره كول، او تر خپلي محدودي دايرې به دباندي نه وتل. اما د سيد جمال الدين جهاد د شرق ټول هيوادونه ونيول، د ده د عمل دايره تر توركيې، مصر، روسيې او اروپا او انگلستانه پوري خپره سوه، او د يوه ملت په حدودو كي د ده جهاد محصور نسو پاته.

په ډول ډول اصلاحاتو يې لاس پوري كړ، شرقي ملتونه يې وېښ كړل، چي د غاصب استعماره څخه ځانونه وژغوري، مستبدو حاكمانو له ظلمه ځان خلاص كړ، د مقلدو فقهيانو له جموده او د خرافاتو له كړېو څخه ووزي. ده خپل جهاد له افغانستانه شروع كړ، چيري چي دی زوكړی و، او د ده وطن و، وروسته هند، مصر، ايران، توركيې ته ولاړ. په هر ځای كي خلك راوپاڅول، وېښ يې كړل، او لكه روڼ ستوری هر ځای يې روښانه كړ، دا لوی حكيم د دين په اسرارو ښه پوه وو، ده به هغه څه ليدل چي نور يې له ليدلو څخه قاصر وو، د مختلفو ملتونو اوضاع به يې په غور مطالعه كول، يو وخت يې خپل شاگرد شيخ عبدالرشيد ابراهيم تتاري ته داسي و ويل :

"زويه ! ژر به ته د تزاري امپراطورۍ كمبله ټوله و وينې ! او دغسي به هم انگريزي اقتدار له هنده څخه ختم سي." او دا هغه عالمانه خبري وې، چي په (۱۹۱۷ م او ۱۹۴۷ م) په روسيه او آزاد هند كي رشتيا سوې.

استاد امام محمد عبده د مصر لوی مفتي او د سيدجمال الدين مشهور شاگرد او همكار د ده علم او لوړ شخصيت داسي ستايلی وو : "كه زه و وايم، چي د سيد ذهني قوت او د عقل رسايي او د بصيرت نفوذ دوني وو، چي خدای تعالی پسله انبياوو، بل چاته نه و وركړئ، نو به دا مبالغه نه

وي. و ذلك فضل الله يوتيه من يشاء، والله ذوالفضل العظيم." سيد جمال الدين خو په حقيقت کي د غربي استعماره سره لومړی مجاهد سپاهي وو مگر د دغي غربي دنيا پوهانو هم د ده لوړ همت او شخصيت په دې اندازه مانه، چي د امريکې مشهور عالم لوثروت ستوارد ليکي :

"جمال الدين لومړنی مسلمان وو، چي د غربي استعمار خطر يې حس کئ، او د دغه په مقابل کې د عالم اسلام د ويښولو لپاره خپل ځان قربان کئ، او هر ځای ته چي د ده قوم رسېدئ هلته يو داسي فکري او اجتماعي ښورښت پيدا سو، چي بيا يې اور چاپېر نه کړای سو.

او د برنارډ ميشيل بل اروپايي ليکوال په قول : د شرقي ملتونو اکثر وطني حرکات او د حريت غورځنگونه داسي دي، چي ريښه يې د سيد جمال الدين دعوت ته رسيږي.

د مصر لوي عالم او د ازهر شيخ مصطفی عبدالرزاق چي د سيد جمال الدين د شاگرد شاگرد وو، د خپل لوی استاد شخصيت په دې وينا کي خلاصه کوي، او وايي :

"د سيد جمال الدين دغوني عظم او مجا بس دئ، چي دی د نوي شرق په تاريخ کي د آزادۍ لومړنی داعي ـ او هم د حريت د لاري اول شهيد دئ."

په دې کتاب کي د سيد جمال الدين د لوی فکري او عملي جهاد تاريخ په افغانستان ـ هند ـ ايران ـ ترکيه ـ مصر ـ اروپا کي په مفصل ډول بيانيږي، او ښاغلی مؤلف دا ثابتوي چي سيد يو سوچه افغان او د افغانستان د کنړ له سيدانو څخه وو، او چا چي دی ايرانی گڼلی دئ دا يو تهمت دئ. د دې کتاب تحقيقي څېړني چي سړی گوري، نو د دې لوی



افغان تاريخي او نابغ شخصيت په لنډ ډول داسي تحليل کولای سي :لکه چي ما و ويل : سيد د عالم شرق ناروغي تشخيص کړې، او بيا يې خپل ځان، خپل همت، او جهاد د دغي ناروغۍ د علاج لپاره وقف کړئ وو.

د سيد تشخيص داسي وو، چي د شرق ملتونو هغه وخت دوه ډوله ناروغۍ درلودې : لومړی خو د غربي استعمار، بلـه د دوی په ځان وه چي له هنده نيولې بيا تر غربي دنيا او مغربه پوري ټول دغه ملل يا مستقيماً تر غربي استعمار لاندي وو، يا دا چي په نامستقيم ډول د استعمار بلاوي پر مسلطي وې، او د دوی ملي ژوند يې سره نښتېځه.

نو سيد په شرق او غرب کي د استعماري قواوو سره جهاد شروع کئ، په هند ـ ايران ـ ترکيه ـ مصر کي يې خلك د استعمار په مقابل کي ودرول. هر ځای ته چي ورسېدئ، هلته يې يو داسي ملي غورځنگ پيدا کئ، چي په آخر کي د ده شاگردانو د آزادۍ غوښتلو حرکتونه ژوندي وساتل، او په نتيجه کي يې د استعمار کړۍ وشلولې.

د شرقي اولسونو دوهمه ناروغي داخلي فسادونه او استبدادي رژيمونه وو، د فکر جمود وو، د عقل او بصيرت ړوندوالی وو، د اسلامي احکامو ممسوخ رنگ وو، چي دغو ټولو عواملو د شرق ملتونه په اوږده خوب بيده کړي وو، نو سيد د هر قوم مشران ـ پوهان ـ علماء وليدل، دوی يې د اسلام حقيقي قانون او د قرآن عظمت او گټه ورتوب ته ملتفت کړل، د خرافاتو او اوهامو سره يې مبارزه وکړه، استبداد يې وغانده، او د هر ملت زلمي يې اصلاح او سمون ته راوپاخول.

د ده جهاد په ژبه او قلم وو، په مصر کې د صحافت بنياد کښېښود، ډېر داسي اديبان او ليکوالان او شاعران يې وروزل، چي وروسته دغه خلك د عربي دنيا په صحافت کي پيشقدمان او پيشوايان سول. سياسی او

اجتماعي فکر يې په خلکو کـي پيـدا کـئ. د سياسـي ډلـو او گونـدونو اساسونه يې ټينگ کړل.

دا وو د دې نـوي کتـاب لنـډون چـي زمـوږ يـوه مصـري عـالم ورور اوس ليکلـئ او د جمهوريـة العربيـة المتحـده لـوړ دولـت خپـور کړئ دئ. چي هر افغان بهٔ د خپلو مصري ورونو له دې توجه څخه شاکر او ممنون وي.

په پای کي زه له دغه کتابه څخـه د عربـو د يـو مشـهور ليکـوال او لغوی ابراهيم اليازجي د سيد دغه ستاينه را اخلم چي د البيـان پـه مجلـه کې ليکلې وو : "سيد د شرق داسي خطيب وو، چي شرق او غرب تـه د ده ږغ رسېدلئ ، د ده له محرابه څخه د يقين رڼاوي ځلېدې، د زړه او ژبې څخه يې علم او حکمت راوتل، په بيان کې د بلاغت لمر بريښېـدئ، د ده له قلمه او گوتو څخه د عرفان چينې رابهېدې." (۱)

(۱) عرفان مجله، ۱۳۴۸ ل کال، ۲ او ۳ يمه گنه، ۹۵ ـ ۹۹ مخونه.